د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

سپین غر پوهنتون (ننګرهار)

اداري او مالي چارو معاونیت

مالي چارو آمریت

# د فیسونو د ورکړې او نورو تادیاتو کړنلاره

کال | د طبي لوړو زده کړو معیاري اداره | ۱۴۰۴ لمریز

بسم الله الرحمن الرحیم

Spinghar University
Nangarhar
تاسیس کال: ۱۳۸۸

# لیکلړ


اول فصل ........ 1

عمومیات ........ 1

اوله ماده: سریزه ........ 1

درېیمه ماده: د کړنلارې اهداف ........ 1

څلورمه ماده: د کړنلارې تائیدي او تطبیق ........ 1

پنځمه ماده: کلیدي اصطلاحات ........ 2

دوهم فصل ........ 2

د حق الأجرت او حق الشمول (داخلې) فیس مقدار او د ورکړې طریقه ........ 2

شپږمه ماده: د فیس اندازه ........ 2

اوومه ماده: حق الشمول (داخلې) فیس ........ 5

اتمه ماده: د تادیې طریقه ........ 5

دریم فصل ........ 6

تحصیلي خدمات، تخفیفونه او سکالرشیپونه ........ 6

نهمه ماده: با کیفیته خدمات ........ 6

لسمه ماده: د تخفیف کڅوړې ........ 6

یولسمه ماده: سکالرشیپونه ........ 7

څلورم فصل ........ 7

متفرقه موارد ........ 7

دولسمه ماده: وړیا خدمتونه ........ 7

دیارلسمه ماده: سالم رقابت ........ 8

څوارلسمه ماده: د کړنلارې تائیدي ........ 8

## اول فصل
## عمومیات

### اوله ماده: سریزه

سپین غر پوهنتون (ننگرهار) په (۱۳۸۸) لیږدیز لمریز کال کې ایجاد، د لوړو زده کړو وزارت سره په نولسمه گڼه ثبت او د ننگرهار ولایت په مرکز جلال آباد ښار کې یې په فعالیت پیل وکړ، چې اوس مهال په عمومي طب ، غاښونو طب او طبي تکنالوژۍ پوهنځیو کې د لیسانس په کچه محصلین روزي، او خپلې ټولې چارې د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو، لوایحو، طرز العملونو، معیارونو او حکمونو پر اساس په معیاري ډول مخته وړي.

پوهنتون د خپلو پورته علمي برنامو، څیړنو، اداري او نورو نوښتگرو فعالیتونو د مالي ملاتړ لپاره د محصلینو څخه د حق الشمول او حق الاجرت د اساسي منبع ترځنگ نور گڼ شمیر عواید لکه د بهادار اسنادو فیسونه، د څیړنیزو پروژو له لارې فیسونه د قوانینو او طرز العملونو په رڼا کې ترلاسه کوي.

دا چې د محصلینو څخه د فیسونو راټولول (ترلاسه کول) یو له مهمو ستونزو څخه گڼل کیږي، په همدې اساس د فیسونو د اساسي او فرعي سرچینو په لړ کې سپین غر پوهنتون (ننگرهار) د محصلینو د فیسونو ترلاسه کولو او د تادیاتو طریقو د اسانتیا په موخه خپلو محصلینو او ښکیلوو خواوو ته روښانه اوشفاف اصول او طرز العملونه وړاندې کوي چې د هغې پر بنسټ خپل مسؤلیتونه په اصولي او مسؤلانه ډول ترسره کړي، او پوهنتون د سمسترونو او کال په جریان کې خپلې ټاکل شوې بودیجې ټول عملیاتي او انکشافي مصارف په اغیزمن او اصولي ډول پوره کړي. خصوصي لوړو زده کړو پوهنتونونه د علمي او اداري خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د لگښتونو پر بنسټ بودیجې ته عاجله او پر وخت اړتیا لري او د یادو بودیجو د تمویل اساسي سرچینه د محصلینو فیسونه بلل کیږي، او دا فیسونه یو منظم او د تطبیق وړ اورد مهاله طرز العمل ته اړتیا لري، تر څو د محصلینو د فیسونو او د هغې تادیات په منظم ډول اجراء شي.

### دریمه ماده: د کړنلارې اهداف

په سپین غر پوهنتون (ننگرهار) کې د فیسونو د تادیاتو کړنلاره د لاندې موخو د لاسته راوړلو لپاره تصویب او د تائید له اړوندو پړاونو څخه تیریږي:

1. په پوهنتون کې د محصلینو د فیسونو په اړه د چارو تنظیمول
2. د محصلینو لپاره د نورو علمي، تخنیکي، اقتصادي ستونزو، فرهنگي خدماتو په فیسونو او لگښتونو کې د تخفیفونو اجراء کول
3. د لوړو زده کړو غوښتونکو لپاره په ټیټه بیه د زده کړیزه خدماتو ته د لاسرسي مساوي فرصتونو اسانه کول
4. د فیسونو د ټاکلو لپاره د اړوندو شاخصونو او سلسلو لپاره واضح تعریف وړاندې کول
5. وړ او با استعداده محصلینو ته د مالي مرستو او سکالرشیپونو د اړوندو چارو تنظیمول
6. د فیسونو د ورکړې (قسطونو) لپاره د لازمو ترتیباتو وړاندې کول.

### څلورمه ماده: د کړنلارې تائیدي او تطبیق

دا کړنلاره د سپین غر پوهنتون (ننگرهار) لخوا ترتیب او د پوهنتون د پلان او پالیسۍ اصلي کمېټې او د پوهنتون د علمي شورا د تائیدۍ یوازې په سپین غر پوهنتون (ننگرهار) کې د تطبیق وړ ده.

### پنځمه ماده: کلیدي اصطلاحات

1. **حق الشمول (داخلې فیس):** پوهنتون کولای شي د شمولیت په وخت کې یواځې د یوه ځل لپاره له محصل څخه د حق الشمول (داخلې) په نوم (فیس) مبلغ واخلي.
2. **حق الأجرت:** پوهنتون کولای شي د اړوندې لایحې سره سم د تحصیلي خدمتونو د وړاندې کولو په بدل کې له محصلانو څخه د حق الاجرت په نوم (فیس) مبلغ واخلي.
3. **کانکور ازموینې فیس:** دا هغه فیس دی چې په کانکور ازموینه کې نوماندان د ثبت نام په پروسه کې د کانکور ازموینې ترسراوي له درکه د معلومو مصارفو د ترسراوي په بدل کې پوهنتون ته ورکوي.
4. **تحصیلي لګښتونه:** دا هغه فیسونه (مبلغ) دي چې محصلین یې د تحصیلي خدماتو د ترلاسه کولو لکه (اضافي تدریس، علمي سفرونه، ځانګړې ازموینې، عدم کریدیت مضامینو تعقیب، معذرتي ازموینو د معلوم او ټاکلي مصرف په اندازه د خپل دایمي فیس سربیره ورکوي.
5. **تحصیلي بورسونه:** پوهنتون کولای شي د نوم لیکنې په صورت کې په ځینو پوهنځیو کې د محصلینو د جذب د زیاتوالي او لوړو زده کړو ته د ټولنې د ممتازو وګړو د هڅونې په موخه ځینې سکالرشیپونه (تحصیلي بورسونه) اعلان کړي، چې د سکالرشیپونو د نوعیت، فیصدۍ او شرایطو په اړه به د پوهنتون مالي امکاناتو په نظر کې نیولو سره د پوهنتون مالي چارو کمېټې د پریکړې له مخې ټاکل کیږي.
6. **برحاله محصلینو ته سکالرشیپونه:** پوهنتون د هر سمستر د نهایي پایلو څخه وروسته د کال پسرلني او خزاني سمستر ممتاز (اول نمره) محصلینو ته پوهنتون د مالي امکاناتو په نظر کې نیولو سره د مالي کمېټې د پریکړې په تائید د اړوند طرزالعمل له مخې ځینې لنډ مهاله سکالرشیپونه وټاکي.
7. **مالي مرستې:** پوهنتون د امکان په صورت کې په خپلو کلنیو مالي پلانونو او بودیجو کې د برحاله یا نویو جذبیدونکو بې وزله محصلینو سره مالي مرستې کوي، یادې مالي مرستې د محصل د پوره پیژندنې او غربت تثبیت وروسته د مالي کمېټې لخوا وضع کیږي.
8. **د ډیپلوم او ترانسکریپټ فیس:** دا یو ټاکلی مقدار فیس (مبلغ) دی او له هغو فارغانو څخه اخیستل کیږي چې په بریالیتوب سره یې د نظري زده کړو او نهایي ستاژ دوره (تحصیلي دوره) بشپړه کړې وي او غواړي چې دولتي ډیپلوم او ترانسکرپټ (مصؤن اسناد) ترلاسه کړي.

## دوهم فصل

## د حق الأجرت او حق الشمول (داخلې) فیس مقدار او د ورکړې طریقه

### شپږمه ماده: د فیس اندازه

1. په سپین غر پوهنتون (ننګرهار) کې د فیس اندازه د تحصیلي خدماتو کیفیت، درسي او کاري اسانتیاو، روغتوني او لابراتواري عملي کارونو، مناسب ځای او چاپیریال، د تدریس طرز، اداري او علمي ظرفیت، علمي شالید، د کیفیت لوړونې پړاوونو او تجاربو په نظر کې نیولو سره د تخصص، علمي کادر غړو، لوړو تحصیلي درجو او تجربو، بشري منابعو، تحقیقي اسانتیاوې، غوره عملي او نظري تدریس، د غوره او معیاري تدریسي روغتون، مجهزو لابراتوارونواو د پوهنتون په دایمي ملکیت کې د خپلې ودانۍ په لرلو سره د لاندې جدول له مخې ټاکل کیږي، چې د هر کال په جریان کې به د هیواد، سکتور، ولایت، اداري، او د ټولنې اقتصادي حالاتو ته په کتو سره د تغیر وړ وي.

په سپین غر پوهنتون (ننګرهار) کې د پوهنځیو هرې دورې نویو جذب شویو محصلینو فیسونه د لاندې دلایلو پر بنسټ ثابت نه دي:

1. د ادارې د لګښتونو کچه
2. په ټولنه کې د اقتصادي وضعیت حالت
3. په سکتور کې بدلونونه او مالي زیانونه
4. د هېواد په سیاسي اوضاع کې تغیرات
5. د لوړو زده کړو وزارت او ازموینو ملي ادارې په طرزالعملونو کې تعدیلات او تغیرات

په پورته شاخصونو کې د تغیراتو له کبله د پوهنځیو په تفکیک د هرې دورې محصلینو فیسونه ممکن توپیر ولري. د هرې نوې دورې لپاره د محصلینو د جذب وړاندې به د پوهنتون مالي چارو کمېټه د پورته شاخصونو په پام کې نیولو سره د امناء هیئت په مشوره او موافقه د پوهنځیو لومړي سمستر محصلینو لپاره د فیسونو اندازې تعینوي او د محصل لخوا د تعهد نامې په لاسلیک سره به د ستاژ په شمول د ټولې تحصیلي دورې لپاره د تطبیق وړ وي. البته د ستاژ دورې فیس کچې او تخفیف په هکله به د تدریسي روغتون د شرایطو او حالاتو په پام کې نیولو سره مالي چارو کمېټه پرېکړه کوي. د پوهنځیو په تفکیک د سمستروار فیس (حق الاجرت) اندازې د مالي چارو کمېټې لخوا د هېواد اقتصادي وضعیت او پوهنتون مالي حالت ته په کتو تائیدیږي.

**د تحصیلي رشتو د فیسونو اندازه**

| ګڼه | تحصیلي رشته | حق الأجرت (فیس) | تفصیل (کتنې) |
|---|---|---|---|
| 1 | عمومي طب پوهنځی | 80000 افـ | سمستروار فیس |
| 2 | غاښونو طب پوهنځی | 30000 افـ | سمستروار فیس |
| 3 | طبي تکنالوژۍ پوهنځی | 15000 افـ | سمستروار فیس |

**2.** سپین غر پوهنتون (ننګرهار) کولی شي چې د علومو د لویو کټګوریو پر بنسټ خپلو تحصیلي رشتو د مصارفو په تعقیب خپل فیسونه وټاکي او په اصولي ډول یې طی مراحل کړي.

**3.** پوهنتون د تحصیلي کلونو په جریان کې اړوندو برحاله سمسترونو محصلینو ته چې په زده کړو بوخت وي، د فیس اندازه په هېڅ صورت نه تغیروي.

**4.** د فیس اندازې د سپین غر پوهنتون (ننګرهار) لخوا ټاکل کیږي، او د پوهنتون د اړوند ذیصلاح کمېټو او شوراګانو د تائید وروسته د پوهنتون په رسمي ویب پاڼه کې ذینفعانو ته د لاسرسي په موخه اعلانیږي.

**5.** د هر نوي سمستر لپاره د حق الأجرت (فیس) اندازه د انفلاسیون نرخ په پام کې نیولو سره د تغیر وړ ده. د برحاله محصلینو لپاره فیسونه د تغیر وړ نه دي.

**6.** په سپین غر پوهنتون (ننګرهار) کې د نورو فرعي فیسونو (نور تحصیلي لګښتونه) اندازې د لاندې جدول له مخې ټاکل کیږي او د محصل لخوا د اړونده حالت د واقع کیدو په صورت کې تادیه کیږي.

### د بهاء لرونکو (مصؤن) سندونو فیسونه

| ګڼه | د سند نوعیت | د فیس اندازه | | تفصیل (کتنې) |
|---|---|---|---|---|
| | | پوهنتون ته ٪۲۰ تادیه | وزارت ته فیس تحویلي | |
| 1 | په رسمي ژبو د ډیپلوم فیس | 200 افـ | 1000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 2 | په رسمي ژبو د ترانسکرپیت فیس | 200 افـ | 1000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 3 | په بین المللی ژبو د ډیپلوم فیس | 200 افـ | 1000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 5 | په بین المللی ژبو د ترانسکرپیت فیس | 200 افـ | 1000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 6 | د ستاژ د تصدیق فیس | 200 افـ | 1000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 7 | نور تصدیقونه او د فراغت نور اسناد | 100 افـ | 500 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 8 | په رسمي ژبو د ډیپلوم فیس (مثنی) | 400 افـ | 2000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 9 | په رسمي ژبو د ترانسکرپیت فیس (مثنی) | 400 افـ | 2000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 10 | په بین المللی ژبو د ډیپلوم فیس (مثنی) | 400 افـ | 2000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 11 | په بین المللی ژبو د ترانسکرپیت فیس (مثنی) | 400 افـ | 2000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 12 | د ستاژ د تصدیق فیس (مثنی) | 400 افـ | 2000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 13 | نور تصدیقونه او د فراغت نور اسناد (مثنی) | 200 افـ | 1000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 14 | په رسمي ژبو د ډیپلوم فیس (دویم مثنی) | 600 افـ | 3000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 15 | په رسمي ژبو د ترانسکرپیت فیس (دویم مثنی) | 600 افـ | 3000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 16 | په بین المللی ژبو د ډیپلوم فیس (دویم مثنی) | 600 افـ | 3000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 17 | په بین المللی ژبو د ترانسکرپیت فیس (دویم مثنی) | 600 افـ | 3000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 18 | د ستاژ د تصدیق فیس (دویم مثنی) | 600 افـ | 3000 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 19 | نور تصدیقونه او د فراغت نور اسناد (دویم مثنی) | 300 افـ | 1500 افـ | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |

### د نورو متفرقه خدماتو فیسونه

| ګڼه | خدماتو نوعیت | تفصیل (کتنې) |
|---|---|---|
| 1 | کانکور ازموینې د ثبت نام فیس | د ازموینو ملي اداري د تحویلي او کانکور ازموینې معلوم مصرف |
| 2 | د کتابتون کارونې فیس | نشته |
| 3 | د پارکنګ کارونې فیس | نشته |
| 4 | دویم او دریم چانس ازموینې | نشته |
| 5 | عدم کریډیټ (باقیداري مضامینو) فیس | په اړونده صنف کې د فی کریډیټ د حق الزحمې پر اساس |
| 6 | د محرومو مضامینو دویم ځل تعقیب فیس | په اړونده صنف کې د فی کریډیټ د حق الزحمې پر اساس |
| 7 | د محصل د هویت کارت فیس | د معلوم مصرف لپاره |
| 8 | د محصلینو د فراغت غونډې فیس | په غونډه کې د فی محصل معلوم مصرف لپاره (اختیاري) |
| 9 | د ستاژ له تکمیل وروسته د فراغت داخلي تصدیق فیس | د معلوم مصرف لپاره |
| 10 | Character Certificate | د معلوم مصرف لپاره |
| 11 | Recommendation Letter | د معلوم مصرف لپاره |
| 12 | Bonafide Certificate | د معلوم مصرف لپاره |
| 13 | Attempt Certificate | د معلوم مصرف لپاره |
| 14 | Detailed Marks Certificate | د معلوم مصرف لپاره |
| 15 | English language proficiency Certificate | د معلوم مصرف لپاره |
| 16 | د یو کلنو او لنډ مهاله برنامو او کورسونو فیسونه | د جدا طرز العمل مطابق تاکل کیږي |

## اوومه ماده: حق الشمول (داخلې) فیس

1. په سپین غر پوهنتون (ننګرهار) کې د کانکور ازموینې وروسته بریالي کاندیدان مکلف دي چې د لاندې ذکر شوي جدول مطابق په اړوند پوهنځي کې د شمولیت لپاره د حق الشمول (داخلې) فیس تادیه کړي، د حق الشمول فیس د تخفیف تابع نه دی:

| ګڼه | تحصیلي رشته | د فیس اندازه | تفصیل (کتنې) |
|---|---|---|---|
| 1 | عمومي طب پوهنځی | 10000 افـ | یوازې د یو ځل لپاره تادیه کیږي |
| 2 | غاښونو طب پوهنځی | 1000 افـ | یوازې د یو ځل لپاره تادیه کیږي |
| 3 | طبي ټکنالوژۍ پوهنځی | 1000 افـ | یوازې د یو ځل لپاره تادیه کیږي |

2. که چیرې یو کاندید په کانکور ازموینه کې د معیاري نمرو په ترلاسه کولو کې پاتې راشي او ناکام شي، نو د کانکور ازموینې د ثبت نام فیس بیرته نه ورکول کیږي.
3. د لیسانس په کچه د لوړو زده کړو د حق الشمول (داخلې) فیس د هرې تحصیلي دورې په پیل کې یوازې یو ځل تادیه کیږي.
4. پوهنتون کولای شي چې د محصلینو د جذب، غوښتنو او د ټولنې اقتصادي حالت ته په کتو سره په ځینو پوهنځیو کې د داخلې فیس معاف کړي، چې دا پریکړه به د پوهنتون د مالي کمېټې لخوا کیږي.

## اتمه ماده: د تادیې طریقه

1. د فیسونو په برخه کې د محصلینو ټول تادیات د دې لایحې د (۵) مادې د (۱،۶) فقرې د جدولونو سره سم تادیه کیږي، او د سپین غر پوهنتون (ننګرهار) لخوا د هرې تادیې په بدل کې رسید ورکول کیږي، د مصؤنو اسنادو قیمت چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا ټاکل کیږي د وزارت د تعرفې پر اساس د دولتي بانک له طریقه د وزارت بانکي حساب ته استول کیږي.
2. د سپین غر پوهنتون (ننګرهار) محصلین باید خپل تادیات (فیسونه) په نغدي ډول د پوهنتون مالي چارو آمریت کې تادیه کړي او په اتثنایي حالاتو کې کولای کې د پوهنتون بانکي حساب کې جمع کړي.
3. محصلین باید د سمستر ټاکل شوی فیس په قسطونو کې تصفیه کړي، د هر سمستر د قسطونو شمیر چې د سمستر مجموعي مبلغ څخه زیات نشي د پوهنتون د مالي کمېټې لخوا ټاکل کیږي.
4. د پوهنتون په ټولو پوهنځیو کې د محصلینو فیسونه میاشتیني نه بلکه سمستروار دي. د محصلینو اقتصادي ستونزو ته په کتو یاد فیسونه په قسطونو کې اخستل کیږي.
5. که چیرې یو محصل د اقتصادي یا عایداتي ستونزو له امله د زده کړو ټاکل شوی فیس په خپل وخت تادیه نه کړي، سپین غر پوهنتون (ننګرهار) کولای شي د فیس د راټولولو مناسب میتودونه وکاروي، خو دا میتودونه باید د محصل لپاره له نظري او عملي زده کړو څخه د محرومۍ باعث نشي.
6. په وسطي او نهایي ازموینو کې شمولیت لپاره د حاضرۍ د پوره والي په څیر د محصلینو د نورو ټولو مکلفیتونو او مسؤلیتونو ترڅنګ د اړوند سمستر د فیس تصفیه لازمي او حتمي ده، پوهنتون کولای شي چې د مالي چارو کمېټې د پریکړې له مخې د په ازموینو کې د فیسونو له کبله د محصلینو د شمولیت او نه شمولیت د څرنګوالي په اړه پریکړه وکړي.
7. د تادیاتو ترتیبات باید د سپین غر پوهنتون (ننګرهار) د مالي او اداري چارو مرستیال لخوا ترسره شي، د مالي او اداري چارو مرستیال مکلف دی چې په خپلو فعالیتونو کې پر عایداتو د مالیاتو قانون حکمونه، اصول او لارښوونې رعایت کړي.

Spinghar University Nangarhar
تاسیس کال: ۱۳۸۸

8. که چیرې یو محصل د سمستر مکمل فیس تادیه کړی وي، او بیا د سمستر د تأجیل غوښتنه کوي نو پدې صورت کې محصل ته فیس بیرته نه ورکول کیږي یاد فیس به د محصل راتلونکي سمستر ته لیږدول کیږي.
9. که چیرې یو محصل د سمستر د دریمې اونۍ وروسته خپلې زده کړې ترک کړې تادیه شوی فیس به بیرته نه ورکول کیږي.
10. که چېرې یو محصل تحصیل ترک (غایب) شي او بیا ځلې د ادامه تحصیل له لارې مراجعه کوي، دا ډول محصلینو څخه به د لاسلیک شوي ژمنلیک/قرارداد مطابق فیسونه اخستل کیږي.

## دریم فصل

## تحصیلي خدمات، تخفیفونه او سکالرشیپونه

### نهمه ماده: با کیفیته خدمات

1. په سپین غر پوهنتون (ننگرهار) کې تحصیلي خدمات د لوړو زده کړو وزارت د پالیسیو سره سم د متخصص او تجربه لرونکو علمي کادرونو له خوا وړاندې کیږي.
2. پوهنتون د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ رقابتي سیالۍ او نورې اړوند برنامې دایروي.
3. پوهنتون د محصلینو او علمي کادر غړو د تدریس د کیفیت او علمي فعالیتونو د ښه والي په موخه علمي او تحصیلي خدمات وړاندې کوي.
4. پوهنتون د دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره په ګډه څیړنیز او علمي فعالیتونه ترسره کوي.

### لسمه ماده: د تخفیف کچورې

1. د سپین غر پوهنتون (ننگرهار) د أمناء هیئت په موافقه او مالي کمېټې په تائید د تقنیني سندونو د حکمونو په رڼا کې د ټولنې اقتصادي حالاتو ته په کتو سره د یو سمستر یا د مکملې تحصیلي دورې لپاره تخفیفونه وضع کولای شي.
2. پوهنتون د ټولنې بې بضاعته وګړو لپاره په انفرادي توګه او همدا راز د ادارو سره د ګډو همکاریو پر بنسټ د تخفیف بستې د شرایطو په رعایت سره په پام کې نیسي.
3. سپین غر پوهنتون (ننگرهار) په موجوده پوهنځیو کې د هر ډول تخفیف کچورې د لاندې جدول پر بنسټ تنظیم او د تطبیق وړ دي.

**د پوهنځیو په کچه ممتاز محصلینو تخفیفونه**

| ګڼه | پوهنځي/په صنف کې درجه | د تخفیف اندازه | د تخفیف موده |
|---|---|---|---|
| 1 | د عمومي طب پوهنځي په کچه لومړی مقام لرونکی | 12000 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 2 | د عمومي طب پوهنځي په کچه دوهم مقام لرونکی | 9000 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 3 | د عمومي طب پوهنځي په کچه دریم مقام لرونکی | 6000 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 4 | غاښونو طب پوهنځي په کچه لومړی مقام لرونکی | 5000 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 5 | غاښونو طب پوهنځي په کچه دوهم مقام لرونکی | 3500 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 6 | غاښونو طب پوهنځي په کچه دریم مقام لرونکی | 2500 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 7 | طبي تکنالوژۍ پوهنځي په کچه لومړی مقام لرونکی | 4500 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 8 | طبي تکنالوژۍ پوهنځي په کچه دوهم مقام لرونکی | 3500 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 9 | طبي تکنالوژۍ پوهنځي په کچه دریم مقام لرونکی | 2500 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |

**د نظري زده کړو د وروستي سمستر ممتازو محصلينو تخفيفونه:**

| ګڼه | پوهنځي/په صنف کې درجه | د تخفيف موده |
|---|---|---|
| 1 | د عمومي طب پوهنځي وروستي سمستر لومړی مقام لرونکی | په ټاکلي فيس کې د وروستي سمستر لپاره لس سلنه تخفيف |
| 2 | د غاښونو طب پوهنځي وروستي سمستر لومړی مقام لرونکی | په ټاکلي فيس کې د وروستي سمستر لپاره لس سلنه تخفيف |
| 3 | د طبي ټيکنالوژۍ پوهنځي وروستي سمستر لومړی مقام لرونکی | په ټاکلي فيس کې د وروستي سمستر لپاره پنځلس سلنه تخفيف |

**4.** د تخفيف پورتني نوعيتونه يا اندازې د اوسني اقتصادي شرايطو په پام کې نيولو سره د سپين غر پوهنتون (ننګرهار) د رهبرۍ لخوا په هر کال کې د اړتيا پر بنسټ د تجديد وړ دي.

**5.** د پوهنتون او تدريسي روغتون لخوا نورو ادارو سره د تخفيف اندازې به د پوهنتون مالي چارو کمېټې په تائيد د اړخونو ترمنځ د حقوقي سندونو (تفاهم يا تړون) سره سم ټاکل کيږي او د تطبيق کيږي.

**6.** د هغو تخفيفونو اندازه چې د سپين غر پوهنتون (ننګرهار) محصلينو لپاره په کال يا سمستر کې په نظر کې نيول کيږي يوازې په نويو محصلينو د تطبيق وړ دی، د پخوانيو يعني برحال محصلينو په فيسونو او تخفيفونو اغيزه نکوي.

## يولسمه ماده: سکالرشيپونه

د خصوصي لوړو زده کړو مقررې اته ويشتمې مادې د حکم پر بنسټ پوهنتون په غاښونو طب او طبي ټکنالوژي پوهنځيو کې لاندې تحصيلي بورسونه وړاندې کوي:

**1.** د ټولې نظري دورې لپاره د شهيدانو ورثه و، معلولينو او ورکو شويو اشخاصو د حقوقو او امتيازاتو د قانون د حکمونو په رڼا کې تحصيلي بورسونه چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا رسما معرفي شوي وي او له ټاکلي سقف څخه زيات نه وي.

**2.** ياد محصلين بايد د شهيدانو او معلولينو وزارت لخوا تائيد شوي او د لوړو زده کړو وزارت لخوا رسما سپين غر پوهنتون (ننګرهار) ته معرفي شوي وي.

**3.** سکالرشيپونه به د سپين غر پوهنتون په غاښونو طب او طبي ټکنالوژي پوهنځيو د پوهنتون د مالي کمېټې د پريکړو پربنسټ تنظيميږي،

## څلورم فصل

## متفرقه موارد

## دولسمه ماده: وړيا خدمتونه

په سپين غر پوهنتون (ننګرهار) کې وړيا خدمات د لاندې جدول له مخې تنظيم او وړاندې کيږي او په مقابل کې يې د برحاله محصلينو څخه هيڅ نوع فيس نه اخستل کيږي:

| ګڼه | د خدماتو نوعيت | د خدماتو موده | کتنې |
|---|---|---|---|
| 1 | کتاب خانه | د محصل د برحالی په صورت کې | |
| 2 | انټرنيټ | د محصل د برحالی په صورت کې | |
| 3 | رقابتي سيالۍ | د محصل د برحالی په صورت کې | |
| 4 | د نقليه وسايطو پارکينګ | د محصل د برحالی په صورت کې | |
| 5 | شنه او تفريحي ساحه | د محصل د برحالی په صورت کې | |
| 6 | څېړنيز مرکز | د محصل د برحالی په صورت کې | |
| 7 | لابراتوارونه | د محصل د برحالی په صورت کې | |

## دیارلسمه ماده: سالم رقابت

سپین غر پوهنتون (ننگرهار) د ټولنې په مختلفو برخو کې د ښه موقف ترلاسه کولو لپاره د نورو پوهنتونونو سره د تحصیلي خدماتو د کیفیت په نظر کې نیولو سره په تحصیلي فیسونو کې د تخفیف سالمه سیالي ترسره کوي.

## څوارلسمه ماده: د کړنلارې تائیدي

دا کړنلاره په (۴) فصلونو او (۱۴) مادو کې ترتیب او د پلان او پالیسی اصلي کمېټې په (۱۰) ګڼه (۱۴۰۴/۱۰/۲۸) نېټه جلسه کې د رایو په اکثریت تائید او په اړوندو برخو کې د تطبیق وړ ده

د کمېټې د منشي لاسلیک

د کمېټې د مشر لاسلیک

دا کړنلاره په (۴) فصلونو او (۱۴) مادو کې ترتیب او د پوهنتون په (۱۴) ګڼه (۱۴۰۴/۱۱/۲۲) نېټه علمي شورا کې د رایو په اکثریت تائید او په اړوندو برخو کې د تطبیق وړ ده

د شورا د منشي لاسلیک

د شورا د مشر لاسلیک